AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۱۰/۲۵

# د مخدره توکو کر، تولید او استعمال

## (دویمه‌برخه)



درنو لوستونکو د ځینو منابعو نه د راټول شوو معلوماتو په نظر کې نیولو سره دلته غواړم د مخدره توکو پر لغوي او اصطلاحي معنا او مفاهیمو لنډ معلومات وړاندې کړم.

د (مخدر) کلمه له خدر څخه اخیستل شوې چې د ضعف، تنبلي او سستي په معنا استعمال شوې ده.

د لغوي او اصطلاحي معناګانو ترمنځ اړیکه له ورایه لیدل کیږي، ځکه په لغوي معنی کې ضعف، سستي، تیاره ټول شتون لري او په اصطلاحي معنی کې هم نوموړی مفهوم نغښتی دی چې په لاندې کرښو کې به څرګند شي.

په لنډه توګه ویلای شو چې (مخدر) عربي لفظ او د اسم فاعل صیغه ده، جمع یې مخدرات راځي، هغه شي ته ویل کیږي چې انساني عقل په موقت او یا دایمي توګه تر پوښښ لاندې راولي او په یوه شکل د اشکالو سره عقل له فعالیت څخه غورځوي، په اسلامي فقه کې د همدې ډول توکو لپاره د مسکر کلمه زیاته کارول کیږي، ځکه د مسکر کلمه په شرعي نصوصو کې راغلې ده، له همدې کبله یو شمیر فقهاء د مخدراتو پر ځای د مسکراتو کلمه په خپلو بحثونو کې استعمالوي، اما د دواړو کلمو ترمنځ مشترکات او متفرقات شتون لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په لغوي لحاظ مسکرات پر هغو نشه لرونکو توکو باندې ښه صدق کوي چې مست کونکي وي، اما کیدای شي مخدر مست کونکی هم وي او یا تنها د اعضا وو د ضعف او سستې باعث کیدونکی وي.

همدا ډول د مخدره توکو لپاره مختلف اصطلاحي تعریفونه پوهانو وړاندې کړي دي، چې هر تعریف له معیني زاویې څخه دغو توکو ته نظر وړاندې کړی دی.

په شرعي لحاظ د مخدر تعریف: «هر هغه توکي چې د الله تعالی د مکرم انسان د شخصیت په تفکیر کې بدلون پیدا کوي، عقل یې تر پوښتنې لاندې راولي، تشویشونه ورته پیښه وي او بدلون ورکوي مخدر بلل کیږي.»

یو شمیر پوهانو مخدره توکي داسې معرفي کړي دي:« مخدر هغه توکي دي چې پرته له نشاط او خوشحالی څخه عقل او حواس پټوي.»

په شرعي لحاظ هر ډول نشه لرونکي مادې ته (خمر) ویل کیږي، خمر د قرآني نصوصو او نبوي احادیثو، د اجماع او قیاس په اساس حرام بلل شوی نشه یې توکي دي.

په شرعي لحاظ مخدره توکي په دوه برخو باندې ویشل کیدای شي:

- لومړی هغه مخدر چې هغو ته شراب ویل کیږي د حرامو ترڅنګ څښونکي باندې یې شرعي حد لازمیږي.

- دویم له شرابو پرته نور نشه یې توکي دي چې د حرامو له نظره ثابت او جزایې تعزیري دي، د هر هیواد مقننه قوه د هغې د شدت او خفت په اړه تصمیم نیولی شي.

په علمي لحاظ: «هغه مواد او مرکبات چې انسان معتاد کوي او ضرر ورته رسوي مخدر بلل کیږي.»

یو شمیر نور پوهان مخدره توکي په لاندې توګه معرفي کوي:

«مخدر هغه کیمیاوي ماده ده چې له ګنګستوب، خوب او بیواکی سره مل دردونه آرامه وي.»

په لومړي علمي تعریف کې مختلفو نقطو ته پاملرنه شوي ده، د اعتیاد باعث کیدلو او انسان ته د ضرر رسولو پر نقطه باندې زیات ټینګار شوی دی.

په دویم علمي تعریف کې د دردونو د آرامتیا چې له ګنګستوب، خوب او بېواکی سره مل وي ښودل شوی دی، دغه تعریف په حقیقت کې زیات پر هغو مخدره توکو صدق کوي چې هغه مسکن دي او په طبي چارو کې په زیاته پیمانه کارول کیږي.

نړیوال صحي سازمان بیا مخدره توکي داسې معرفي کوي:

هرې هغې خامې یا جوړې شوې مادې ته ویل کیږي چې له ځان سره خوب ورکونکي، تسکینونکي او یاسستونکي عناصر ولري، کله چې د غیر طبي غرضونو لپاره وکارول شي د معتاد کیدو باعث کیږي.

په افغانستان کې د مخدره توکود قوانینو په اړه څو ځله تغیرات راوستل شوي دي، چې له همدې کبله اړوند قوانین هم ځانګړې بڼې لري؛ له ټولو تعریفونو څخه لاندنې تعریفونه غوره دي:

«هر هغه توکي چې استعمال یې اعتیاد رامنځته کوي، فکري، عصبي تشوشات پیښوي، اخلاقي انحطاط ایجادوي، سبب د صعب العلاجه امراضو ګرزي او یا نور صحي او اجتماعي مشکلات رامنځته کوي مخدر بلل کیږي.»

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ